دبگرام هوائي ډګرد هماهنگي عالي شورا دجنګي الوتکوترګوزارلاندي راغي

پروان – دتلې ۲۹ نيټه :

دارسيدلي رپوټونوله مخي دجمعي په شپه په دوبيجو دهماهنګي عالي شورا جنګي الوتکو دبګرام هوائي ډګراويه کابل ښارکي داتئلافي جګړه ماروم‌رکزونه دخپل ګذارونولاندي ونيول په رپوټ کي ويل شوي چي په دغه بمباريو کي ائتلافي جګړه ماروته ډيرسخت مالي اوځاني تلفات وررسيدلي دي خو مفصل رپوټ ئي تراوسه پوري نه دي ترلاسه شوي .

په يوبل رپوټ کي ويل شوي چي دهماهنګي عالي شوراځواکونه په کابل کي داتئلافي جګړه ماروپرمرکزونوباندي بريالي عمليات ترسره کړل چي دهغي په ترڅ کي ځوارلس تنه ائتلافي جګړه مارمړه اوډيرشونه زيات ټپيان شوي او ددوي و خومرکزونه هم له مينځه تللي دي .

دپيمان شهادت سالي ساختيم تابرمردم کړای باشيم پيامبر صلي الله عليه وسلم شاهد باشد

شهادت

(٤) صفحه

ارګان مرکزی حزب اسلامی افغانستان

چندين سنگرمستحكم دشمن درولسوالی خنجان فتح گرديد

بغلان – ۳۰ ميزان

چند پوسته وسنگر دشمن درنزديکی چهارمغزك ولسوالی خنجان روز جمعه به تصرف نيروهای شورای عالي هماهنگي درآمد.

يك منبع مؤثق جهادی از ولايت بغلان گزارش ميدهد طی عمليات پيروزمندانه ای كه عليه مراكز ومواضع نيروهای آشوبگر اداره ائتلافی درسالنگ شمالی آغاز گرديد ده هاسنگردشمن به شمول مواضع مستحكم آنها درمنطقه فرشتگان فتح گرديد.

گزارش ميافزايد درين عمليات كه بخاطر جلوگيری از ماجراجوی وآشوبگری تفنگداران اداره ائتلافی درسالنگ شمالی آغاز گرديد چنان برق آسا انجام شد كه دشمن حتی نتوانست اجساد كشته شده گان خود را ازمعركه بردارد.

درخبرگفته شده كه هشت جسد افراد دشمن در ميدان جنگ باقيمانده ويك قوماندان دشمن بنام قندهاری به شدت جراحت برداشته است.

شماره مسلسل (۸۵۳) سال هفدهم -شماره (۹۱) يكشنبه اول عقرب ۱۳۷۳ هـ ش – ۱۸ جمادی الاول ۱٤۱۵ هـ ق – (۲۳) اكتوبر ۱۹۹٤ م

قيمت (۱۰۰) افغاني (۲ روپيه

برادر حکمتيار يک تعداد قوماندانان جهادي رابحضورپذيرفت

چهارآسياب – ۳۰ ميزان :

برادر حکمتيار امير حزب اسلامي افغانستان روزشنبه باقوماندانان نيروهاي جهادي شوراي عالي هماهنگي ديدارنمود .

يك منبع موثق ازمحل برگزاري ملاقات گزارش داد درين ديداركه درفضاي اخوت وبرادري برگزارگرديد، مسايل سياسي واوضاع نظامي كشور به شمول برخي موضوعات ديگر مورد بحث قرارگرفته اميرحزب اسلامي افغانستان درزمينه به قرماندهان جهادي هدايات لازم دادند .

دننگرهار ولايت جيدو علماووخطيبانو له رباني سره دخبرويه ترڅ کي :

ائتلافي اداره دټولوجنګونو او بدمرغيومور ده

زموږ خبريال ديوه خبرپه ترڅ کي خبرواکوي چي تيره هفته چي دائتلافي اداري مشر رباني دجلال آباد په دولتي ماني کي له خلکوسره ليده کاته کول، په دي لړکي دننګرهاردولايت دعلماو په نمايند‌ګي يوشميرجيدو اوحق پرستو علماؤ هم له رباني سره ملاقات وکړ، ددغوحق پرستو علماؤ له جملي نه محترم مولوي رستم دسپين جومات خطيب، محترم مولوي صاحب سيدامين الله وهاشمي ددبزازي جومات خطيب اومولوي صاحب عبدالوکيل دنورويه نمايند‌ګي خبري وکړي اورباني اودهغه ائتلافي اداره يي دټولو روانوجنګونو اوبدبختيو عامل وبلله ، محترم مولوي صاحب هاشمي رباني ته دبقري سورة داآيت ولوست چي مفهوم يي دادي « ستاسي زړونه دډبري په شان سخت شوي بلکي تردي هم ډير سخت اوکلك دي » يعني ستاسي زړونه پردي خوږيدلي اوشهيد پال ملت هيڅ رحم نه کوي ، بلکي دخپل اقتدارپه خاطر مونږ سلهاومسلمانان قربان کړل اوداالهي عدالت پرځاي موږ‌رمؤمن ولس ظلم اووحشت حاکم کړ، دجهاد عظمت ،پرچم اوبيرغ ته موصدمه ورسوله او دمجاهدينوحيثيت موله خاوروسره خاوري کړ ، مولوي صاحب هاشمي وويل :که چيري پرماخوك فيصله وکړي ،چي افغانستان پريږده اوبل هيواد ته ولاړشه چي په افغانستان کي اسلامي نظام جوړشي، نوزه به دا فيصله په

(۳)مخ

ساحهٔ وسيعی دركابل، ازتسلط ناروای تفنگداران آشوبگر ادارهٔ ائتلافی آزاد شد

كابل – ۳۰ ميزان :

به تعقيب آشوبگري هاوفتنه انگيزي هاي تفنگداران اداره ائتلافي، بامداد روزجمعه ۲۹ ميزان حملات بازدارنده نيروهاي شوراي عالي هماهنگي بالاي پايگاه هاومواضع دشمن درقسمت هاي غربي شهركابل آغازگرديد .

فرماندهي نيروهاي شوراي عالي هماهنگي گزارش ميدهد نيروهاي فاتح شوراي عالي هماهنگي درساعات اول درگيري كه ساعت پنج ونيم صبح آغازگرديد به آتشباري متقابل عليه دشمن پرداخته مواضع وپايگاهاي تفنگداران آشوبگر اداره ائتلافي را درهم كوبيدند .

متعاقباً پيشروي آغازگرديدوتاحوالي ظهرروزجمعه ساحه وسيعي را دشمن ازدست داد .

طبق گزارش ،درين حمله بازدارنده كه به فتوحات قابل ملاحظه انجاميد مناطق زيادي به شمول مدرسه محمديه ، خانه علم وفرهنگ ، فابريكه چپلك سازي، برج برق، سينماي بريكوت، ازتسلط نارواي اشوبگران اداره ائتلافي آزاد گرديد. درگيري ميان طرفين

ص(٤)

حضرت صبغت الله «مجددي» رهبر جبهه نجات ملي اسلامي وارد جلال آباد شد

جلال آباد – ۳۰ ميزان :

محترم حضرت صبغت الله مجددي رهبر جبهه نجات ملي اسلامي افغانستان قبل ازظهرروزشنبه وارد شهر جلال آباد گرديد .

ص(٤)

حاجی اکبرتوره جان زاده رئيس هيئت مذاکره کننده بانمايندگان رژيم تاجکستان :

اوضاع وخيم تاجکستان ، رژيم را به مذاکره بامخالفين کشاند

اسلام آباد – ۲۹ ميزان :

اكبر توره جان زاده ميگويدكه جلسه مقدماتي بروز پنجشنبه تحت سرپرستي ملل متحد وباحضوروزيرخارجه پاكستان ميان حكومت دوشنبه ومخالفان دراسلام آباد دايرگرديد .

وي درمورد دوام وچگونگي كنفرانس صلح تاجكستان منعقده اسلام آباد گفت : بروز هاي جمعه وشنبه هم جلسه اصلي آغازنمي شود بلكه پيرزيالون رئيس هيئت سازمان ملل درين دو روز با طرفين درمورد موضوعاتي كه بايد درين دور مذاكرات روي آن هابحث شود، گفتگو ميكند تا مواضع طرفين رابه همديگر نزديك سازد .

قراراست روز يك شنبه (امروز) مذاكرات آغاز شود تحليل بنده اين است

ص(۳)

بخاطر دريافت کمکهای نظامی بيشتر:

داکتر عبدالرحمن واردمسکوشد

داكترعبدالرحمن فرستاده خاص رباني به روسيه ، درمسكو با ولاديميرتوكين رئيس كميته روابط بين المللي دولتي ،پارلمان روسيه، ديدار وگفتگو كرده است .

راديوي بي بي سي باگزارش اين خبرميگويد: به عقيده ناظرين ورسانه هاي گروهي روسيه ،نتايج اين مذاكرات را ميتوان باب جديدي درراه تفاهم بيشتر ميان كابل ومسكو دانست .

گزارشگربي بي سي ازمسكو گزارش ميدهد: ولاديمير توكين رئيس كميته روابط بين المللي دوماي دولتي (پارلمان روسيه) بااشاره به نتايج ديدار وگفتگوهايش با داكترعبدالرحمن معاون احمدشاه مسعود سردسته باند شوراي نظار و فرستاده خاص رباني رئيس اداره ائتلافي كابل گفت: ازفضاي بازوصراحت كلامي كه درين مذاكرات موجود بود عميقاً راضي است.

توكين افزود كه باوجود اشتباهات

ص(۳)

دجماعت علمای اسلام دوه ورځنی سيمينار ديوه پريکړه ليک په صادرولوپای ته ورسيد

دجماعت علماي اسلام رئيس ورور قاري مومن

دتلي ۲۳ م : زموږ خبريال دجماعت علماء اسلام له مرکزي دفترنه خبرواکوي چي دافغانستان دجماعت علماء اسلام په مرکزي دفترکي دسلوګنو جيدو علماؤ په ګډون يودوه ورځني سيمينار دايرکړاي شو، و، خبريال ليکي چي په دي سيمينار کي محترمو علماو دافغانستان اواسلامي نړي پروانو حالاتو مفصلي خبري اتري وکړي اوخپلي عالمانه نظريي ئي څرګندي کړي ،دسيمينارګډون کوونکيو ته دجماعت علماء اسلام رئيس مجاهدورور قاري مؤمن په خپله هراړخيزه اوعالمانه وينا‌کي له حمدوثناووروسته دافغانستان دروانو سياسي حالاتو،دعلماؤ ددندو او مسووليتونو اودجهاد دجلبي دژوندي ساتلو پراړتيا له عالمانه ويناووروسته دکوټي دغونډي په اروند ووويل : دملګرو ملتونودعمومي منشي ځانګړي نماينده ښاغلي محمودمستيري بايدپردي پوه وي چي افغانان په خپل هيوادکي داسلامي نظام غوښتونکي دي که چيرته له دغه حقيقت نه سترګي پټي کړای شي اودبوغيراسلامي حکومت درامنځته کولو له پاره هلي ځلي وشي، له دي سره به نه

(۳)مخ

په پيښور کی سل ميليونه پنځه زريزاولس زريز نوټونه څوتنو صرافانوته په ورياتوګه ورکړل شول

پشاور – دتلي ۲۹ مه :

دارسيدليوخبروتوله مخي ويل کيږي چي ائتلافي اداري ووروسته له هغي چي دهماهنګي دعالي شوري دابلاغيي په نتيجه کي دويلي ماسکو چاپ پنځه اولس زريزافغانيونوټونوچلښت په ټپه ودريد، په پيښورکي يي څوتنو صرافانوته سل ميليونه پنځه اولس زريز افغاني نوټونه وړياورکړي دي چي دچلښت له پاره يي بازارته وراندي کړي . دغه صرافان بوازي په دي خاطرچي بوځوپيسي يي ترلاسه کړي دغه نوي نوټونه بازارته وراندي کوي اونوردهيوادپه داخل اوبهرکي هيڅوك ددي نويو نوټونو په وسيله راکړه ورکړه نه کوي، دهماهنګي عالي شوري دمخه په خپله ابلاغيه کي ويلي دي چي که دغه نوټونه له هرچا سره وليدل شول سخته سزابه ورکړل شي.

دلوګر ولايت مربوط :

دڅرخ پرسيمه د جمعيت دبقاياوو يرغل په شا وتمبول شو

دتلي ۲۹ مه :

دلوګرولايت نه يوه باوري منبع خبرواکوي چي دتلي دمياشتي په ۲۹ مه نيټه دجمعيت بقاياودخوارله غرونونه دڅرخ پرسيمه ناځاپي حملي پيل کړي . دلوګر ولايت پياوړ يومجاهدينودهغه ولايت دوالي مجاهد ورور الحاج احسان الله په قوماندانه په ځوابي حمله پيل وکړاويه نتيجه کي يي دخريبچك دکوتل ټولي پوستي، ددوښمنسرعمومي مرکز، دشيخ خيلو

(۳)مخ

داکتر محمد رسول (طالب) نماينده حزب وحدت اسلامی :

اشتراك (٦٠) نماينده ازهرتنظيم و (۳۰) نماينده از هرولايت دريك كميسيون ،طرح ناكاميست كه درتوافقنامه راولپندی انرا تجربه كرديم

پشاور – ۲۹ ميزان :

داكترمحمد رسول طالب نماينده حزب وحدت اسلامي درمصاحبه باراديوي امريكا اظهارداشت شوراي عالي هماهنگي درجلسات گونه براي حل بحران افغانستان پيشنهاد نمودكه ابتدا ازتنظيم هاي جهادي وشخصيت هاي بيطرف كميسيوني تشكيل شودتا حكومت مؤقت را تشكيل دهد وقدرت را به آن انتقال نمايد اين حكومت بعداً امنيت كابل را تامين كند .

همچنان ازكابل ومناطق ديگر اسلحه راجمع آوري نمايد وبراي تشكيل يك شوراي بزرگ زمينه سازي نمايد .

ص(۳)

دتاجکستان دصدراعظم مرستيال ووژل شو

دوشنبې – دتلي ۲۹ نيټه :

په تاجکستان کي دحکومتي قواو او مبارزينو ترمينځ داوربند دنافذيدلوسره سم دهغه ملك دصدراعظم دمرستيال موټرپرمين ختلي اودي په کي مړشوي دي .

دصدراعظم مرستيال منورشاه نظيراوف اودهغه ډريور دپايتخت دوشنبي نه دوه سوه ديرش کليومتره شرق طرف ته په ګرم نومي ناحيه کې وژل شوي اودهغه دوه تنه محافظين ډيرسخت ټپيان شول رسمي مقاماتو لاتراوسه پوري څه نه دي ويلي چي داپيښه دي دنظيراوف پرضد يوه ارادي حمله وي .

رپوټ زياتوي چي نن دحکومتي ځواکونواومبارزينو ترمينځ دمتارکي لمړي ورځ ده اوداوربند دملګرو ملتونودڅارونکوهيئت په رسيدو نافذ شواوټاکل شوي ده چي دااوربند دجمهوررئيس دانتخاب تر وخته چي بله مياشت کيږي نافذوي .

(٤)مخ

سرمقاله

دشهيدانوپروينو بله سودا

دکابل ائتلافي اداره چي اصلاً په هيوادکي دمجاهدينويه لاس داسلامي نظام دقيام دمخنيوي په خاطر دکفري نړي اوپه تيره په سيمه کي دغيراسلامي ځواکونودواکمني په خاطر رامنځته شوي له پيله ددغه ائتلاف لوبغاړي هڅه کوي چي دمجاهدينودخپلمنځي جګړونوترنامه لاندي دجهاد، انقلاب ،مجاهدينو اومونوته دومره زيان ورسوي چي نه يوازي داچي په افغانستان کي مجاهدين داسلامي نظام دقيام بريالیتوب ته ونه رسيږي بلکي هغه اسلامي اوجهادي غورځنګونه چي له افغان جهاد نه په الهام اخيستوراپورته شوي دي ، هم دخپل ولس په منځ کي بي باوره کړي .

دکابل کمونستي ائتلافي اداره چي ډيرځوناعاقبت انديشه ، کودتاواوباګمارل شويو مجاهدوله ځيروترسيوري لاندي رامنځته شوي اوپه حقيقت کي هماغه پخواني کمونستان پرمهمو ځوکيو کارکوي له لومړي سرنه يي دافغان اواسلام دوستوهيوادونوپرځاي له اسلام اوافغان دښمنوهيوادونو سره ددوستي ډيري پرسيتومرلي دي اوهڅه يي کړي ده چي دکمونستي رژيم له پخوانيو دوستانوسره اړيکي ټينګي کړي، چي دهغه‌ددولت له خواائتلافي اداري ته دتخنيکي اونظامي مرستوبرابرول ، هغه‌ته دمسعود او دخاددرئيس جنرال فهيم پټ اوڅرګند سفرونه ، دهغه‌له لاري دچکوسلواکيا ته دروسيي ساخت وسلوانتقالول، دفرانسي دواکمن سوسيال ديموکرات ګوندله لوري دائتلافي اداري داعتبار زياتولو له پاره په غربي توګه کي ديپلوماتيکي منډي ترړي ،دامريکايي ډالرويه بيعه دمسکو چاپ بي نمبره افغانيو چاپول اودتاجکستان له لاري دنظامي مرستوترلاسه کول يي څرګندي بيلګي دي .

په دي وروستيوڅوکي چي دائتلافي اداري پرخلاف دهماهنګي دعالي شوري نظامي اوسياسي برياليتوبونه جريان لري اوائتلافي اداره يي په هراړخيزدول کلابندکړي ده ، ددغي اداري مشران سخت وارخطاښکاري اوهڅه دچاخبره هرڅس اوخاشاك ته لاس اچوي،تيره هفته چي دائتلافي اداري مشر رباني دننګرهار ولايت ته کوم سفرکړي و،هغه هم له همدي امله و،چي دائتلافي اداري اودخپلي نيمګړي اوخوړي واکمني داورديدو له پاره يوځه .نوروخت هم ترلاسه کړي اوخپلي شيطاني چلوتي په کارواچوي دخپلي استعفا خبري وکړي، دراولپنډي دشوري ناکامه طرحه بياراوړاندي کړي ، دملګروملتودعمومي منشي دځانګړي استازي ښاغلي محمود مستيري فعاليتونو په مخکي خنډونه راپورته کړي ،اوپه دي ترتيب دکوټي دغونډي په باب اوازي اوانګازي اودهغي اغيزيوڅه راکم کړي ،يوپروفيسر دومره بښت پال شي چي دملګروملتودعمومي منشي ځانګړي اومسلمان نماينده ښاغلي محمود مستيري سره ليده کاته ګناه ګڼي اوبل دومره سيکولرچي دکمونستي بريځودتوپکوترسيوري لاندي دواکمني څښتن وي .

دخبري وسيلو دخبرله مخي دنظارشوري مرستيال اويه اصطلاح دائتلافي اداري دهرا نوردي وزيرداکترعبدالرحمن مسکوته سفرکړي اوهلته دروسيي پر نورو دولتي مقاماتوسربيره په اصطلاح دملي اسامبلي له رئيس توروکين سره هم ګوري، توروکين له داکترعبدالرحمن سره له خبرواترو ورروسته خبرپالانوته وائي چي روسيه په افغانستان اوسيمه کي دراولاړي شوي اسلامي بنست پالي په مقابل کي بي تفاوته پاتي کيداي نه شي اوله همدي امله غواړي چي دافغانستان له حکومت سره نږدي اړيکي ولري ، ددانه لوستونکي دتوروکين له څرګندونو اټکل کولاي شي ، چي دائتلافي اداري واکمنوڅه ډول منافقانه ماسکونه پرخپلو شيطاني څيرو غوړولي اوپه څوله څه وايي اوپه عمل کي څه کوي !!

تحلیلی پیرامون سفر عاجل وغیرمترقبه آقایان ربانی وسیاف به جلال آباد !

صفیر

شام روز پنجشنبه رادیوی صدای امریکا ومتعاقب آن رادیوی بی بی سی خبرغیر مترقبه سفر ربانی وسیاف رابه شهر جلال آباد منتشر نمودند . در خبراز محمد شاه فضلی نیز نامبرده شد . مطابق این خبرمولوی محمد نبی محمدی ومولوی محمد یونس خالص نیز واردشهر جلال آباد شده باسران اداره ائتلافی روی طرح سازمان ملل متحد غور نمودند .

پخش این خبر غیر قابل انتظار سوال هایی را درذهان مردم وتحلیل گران امورسیاسی ایجاد نموده است. راجع به دوسفر تقریباً نزدیك برادر حکمتیار رهبر حزب اسلامی افغانستان به شهر جلال آباد به ویژه سفر اخیرش شایعاتی بوجود آمده بود وناظران امر درمورد به تحلیل هایی نیز پرداخته بودند .

باصرف نظرازاینکه اهداف سفر برادرحکمتیاربه ولایات شرقی افغانستان چه بوده است وچه نتایجی درقبال خواهد داشت ،سفر غیر مترقبه آقایان ربانی وسیاف به شهر جلال آباد در خور اهمیت فروان دانسته می شود چه این دوآقا ازسردمداران طراز اول اداره ائتلافی بوده وقبل براین باخیره سری ولجاجت تمام ازمذاکره بامخالفان شان خود داری می نمودند .

درواقع نسبت همین روش منفی بودکه دوردوم مذاکرات اسلام آباد به رهبری آقای محمود مستیری شکست خورد.

در امه هرات که جهت ابقای ربانی وبادوام اداره ائتلافی دایر گردیده بود علی الرغم تلاش های مذبوحانه حامیان خارجی ائتلاف بااستقبال مردم واحزاب جهادی مخالف روبرو نگردید . نتیجه این درامه مضحك فقط ابقای آقای ربانی برمسند قدرت برای سه ماه دیگر بود که این موعدنیز اکنون به پایان خودنزدیك گردیده است.

ارباب ائتلاف فکرمی کردند که تامدت سه ماه باقی مانده ،اوضاع را به نفع خویش تغییر خواهند داد وبافراخونی شورای کبیر اسلامی یا لویه جرگه وخریداری اعضای آن بوسیله پول های بی پشتوانه چاپ ماسکو ودهلی گویا حاکمیت خود رامشروع ویا قانونی خواهند ساخت ،مگربرخلاف انتظارطوریکه گفته آمدیم به تعقیب شکست درامه هرات ، اداره ائتلافی باشکست های نهایت فاحشی درلوگر،ولسوالی دوشی ،دشت کیلگی وخنجان باشمال شاهراه ستراتیژیك سالنگ مواجه گردید. ومذاکرات اسلام آباد را که بامیانجیگری آقای محمود مستیری میان نماینده گان ورهبران احزاب جهادی درشرف انجام بود تحت شعاع قرارداد، ورروی همین ملحوظ آقای مسعود خلیلی نماینده ائتلاف نسبت نداشتن دست آوردی نتوانست درآن اشتراك ورزد.

مردم افغانستان وافکارعامه بین المللی به ویژه اعلامیه نماینده خاص ملل متحد درامورافغانستان مسئول شکست مذاکرات صلح اسلام آباد واعاده صلح وامنیت درکشور ، اداره ائتلافی و درراس آقای ربانی راشناخت و گمان برده می شد که شکست های نظامی وسیاسی نامبرده تجربه خوبی برای گردانندگان اداره ائتلافی ومؤیدان بیرونی آن خواهد گردید ولی گویاهیچ یك ازاین پشامد ها تغییری درمشی انحصار طلبانه وزورگویانه آنان وارد نیاورد.

اداره ائتلافی باوجود مخالفت اکثریت قریب به اتفاق احزاب جهادی نسبت به نتایج درامه هرات وکمیسیون خود ساخته تدویرلویه جرگه آن ، تلاش های گسترده ایرادر داخل وخارج ازکشوربه راه انداخت ومجدانه سعی به خرج دادتارهبران سه تنظیم بی طرف را که طرحی راجهت حل قضیه کشور به راه انداخته بودند ،تطمیع ومنصرف نماید . ولی هیچیك ازاین کوشش ها بجایی نه رسید وآقای ربانی را با اداره ناکامش هم چنان درانزوانگهداشت .

شکست نهایت فاحش اداره ائتلافی درجنوب وغرب شهرکابل وپیشروی محیر العقول نیروهای فاتح حزب اسلامی افغانستان به صوب ولسوالی پغمان عمده ترین ضربه مؤثری بودکه گمان می شود آقای ربانی ومتحدش آقای سیاف راواداشت تا در اجلاس شهرجلال آباد باردیگر اشتراك کنند.

به یاد می آوریم که درست دوسال قبل همین آقایان ویانماینده گان شان بارنگ های پریده ودستان خالی پس از شکست عملیات انتحاری زمستانی قوماندان مسعود ومؤتلفان کمونستش درشرق شهر کابل ،درمذاکرات اسلام آباد که با وساطت دول پاکستان ،ایران وعربستان تدارك دیده شده بود حضوربهم رسانیدند ودرپای معاهده اسلام آباد که سند قاطع بطلان شورای ساختگی اهل حل وعقد ربانی وسیاف بود ، امضا نمودند . هرچند قوماندان مسعود و یاران ملحدش معاهده اسلام آباد را عملاً نقض کردند مگر نظر به شکست سهمگین دیگراداره ائتلافی درجنوب شهرکابل وتصرف قصردارالامان ودیگرنقاط استراتیژیك نظامی وامنیتی باردیگر آقایان ربانی وسیاف درمذاکرات جلال آباد سرگشتانه اشتراك نموده ومعاهده معروف جلال آباد را که درواقع مشروح وتوثیق معاهده اسلام آباد بود به امضا رسانیدند ولی به هیچ یك ازمواد آن التزام صادقانه نورزیده وجنگ خانمانسوز سیطره طلبانه را برحزب اسلامی افغانستان ومتحدان آن تحمیل کردند.

اداره ائتلافی باخریداری مواضع استراتیژیك بالاحصار وتپه مرنجان گمان می کرد که دیگر به اوج قله پیروزی دست یافته است وبنا برهمین تکبر وحمایت حلقات مغرض بیرونی بود که طرح درامه هرات را روی دست گرفت وبالاخره همچون گذشته باشکست فاجعه باردیگري مقابل گشت .

بهر رنگ درتفسیر وياتحليل سفر غير منتظره آقايان ربانی وسياف به شهر جلال آباد هرچه گفته شود ، حرف رُك وراست دراین ارتباط آن است که باردیگر تکرار تجارب مذاکرات ومعاهدات اسلام آباد وجلال آباد شاید درشرف تکوین باشد ولی حزب اسلامی افغانستان ومتحدانش هیچگاه ازمواقف اصولی خویش آنهم درحالتی که کاملاً دست بالادارد ، عدول نخواهد کرد واین تنها اداره ائتلافی ورهبران شکست خورده ونادم آن خواهند بود که باید باعقل سلیم وباکسب تجربه ازگذشته های سیاه ونکبت بارشان برای مردم مسلمان ووطن بلاکشیده ما ، از انحصارطلبی ووابستگی به اجانب وتوسل به انبار عظیم پول های بی پشتوانه دست کشیده وبگذارند که مجموع احزاب وگروه های جهادی راه حل معقول وممکن را برای بیرون رفت از این بحران جانکاه ومهلك پیدا نمایند.

حکومت مؤقت قابل قبول برای همه رویکارشود ، رهبران جهادی از اشتراك دراین حکومت منصرف شوند ، اعضای حکومت مؤقت در انتخابات آینده غرض حفظ امانت ودیانت وثبوت بیطرفی شان اشتراك نه ورزند ، حکومت مؤقت زمینه تدوین قانون اساسی ، برگزاری انتخابات آزاد ومتکی برموازین اسلامی وایجاد زعامت وپارلمان منتخب رادرکشورمساعد نماید. بدینگونه می توان ادعا کرد که مشکل بحران عدم موجودیت حکومت قانونی ،مداخله بیگانگان ،عدم استقرار وثبات درکشور پایان خواهد یافت ومردم پس از چهارده سال جهاد وسه سال جنگ ناخواسته وغیر شرعی ایتلاف گران اجیر روی آسایش خواهند دید وحکومت دلخواه خویش را تاسیس خواهند نمود.

* * * * * * * * * *

ربانی سوله غواړی،خود ځان په کته

عبيدالله "ايمل"

دا هغه موضوع ده چی نن سبا دهر افغان په ژبه زمزمه کیږی اوپه هر رسمی او غیر رسمی مجلس کی پری خلك تبصری کوی اوپخپل زعم اوفکر په دی هکله ځانگړی نظرونه لری چی په عامه توگه دری نظرونه په دی اړوند دپردتوجه وړ دی ، که څه هم دا هر څه دعوامو د ذهنونو خبری دی خو دځینو انگازو اواوازو په نظر کی نیولو سره د وضعی دبدلون او دائتلافیونو دځپل منځی ژور اختلاف آثار ځرگندوی .

یو شمیرکسان د ربانی په هکله دمحمود مستیری داخوش باوری چی گواکی هغه سولی ته تیارشوی اویادربانی دا خبره چی دملگرو ملتو له پروسی څخه ملاتړ بنبی یوه دوکه اودنوموړی(ربانی) پخوانیو وعدو ته ورته بولی . وایی چی ربانی زیاریاسی په دی کارسره محمود مستیری غافل گیرکړی اوځه موده بی په دغه اوهغه باندی وغولوی هغه په همدی جریه کوښښ کوی چی محمود مستیری دیته وهڅوی چی مقابل لوری اوربند ته اړباسی ترڅو له دغه اوربند څخه په استفادی سره ربانی اویاران بی خپلی تشی ذخیری ډکی اودبلی حملی تیاری ونیسی او یا لرتر لره خپل دفاعی توان غښتلی کړی له بلی خوا ترپوالو اوافغانانو ته داسی ځرگنده کړی چی گواکی ربانی د سولی پلوی دی ، که چیری شرائط آماده شی نودا بی رعیته پاچاهی به خوشی کړی .

دغه کتونکی وایی په ربانی اعتبار نشی کیدای اوته یکاردی چی څوك پری باور وکړی ، ځکه هغه تل منافقانه دریځ خپل کړی او دوعدو خلاف ورزی بی کړیده اواوس لا داچی له صریحو دروغو څخه هم ډډه نه کوی . چی جلال آباد ته دهغوی د بلنی په هکله دحاجی عبدالقدیرڅرگندونی ددی بنه مثال کیدای شی . بله دا چی ددی ډلی خلکو په فکر ربانی اصلاً د دومره واك ځښتن نه دی چی د سولی اوجگړی په هکله تصمیم ونیسی اویا پریکړه وکړی، هغوی وایی دا هرڅه دبل بابا (مسعود) په اختیار کیږی ،حتی د ربانی اوسیاف سفرونه هم دهغه په قومانده ترسره کیږی .کیدای شی دا سفر هم دمسعود دیوتکتیك برخه وی.

– دریم ډله خلك چی څه نا څه دحالاتو له نزاکت نه خبر دی لریل ډول نظرلری وایی چی د جگړی ورووستیو انکشافاتو وضعه بدله کړی اوحالت د ائتلافی اداری دبشپړ سقوط په لور روان دی دکابل بشپړی اقتصادي اونظامی محاصری ائتلافیون دی ته اړکړی چی له حیثی امتیازاتو څخه تیرشی ، ربانی اوس دخپل واکمنی د پاتی کیدو هیڅ چانس نه وینی ،هغه په دی متیقن شوی چی بی رعیته پاچاهی بی که نن وی یا سبا ختمیږی نوښه داده چی د ژوند کولو چانس له لاسه ورنکړی ،نو ځکه د دی بی واکه واکداری پریښودوته اوس هسی بهانه جوړوی چی د ملگرو ملتوډ پروسی تائید بی ښه لاره کیدای شی . خو بیا هم د حالاتو داحتمالی بدلون په نظر کی نیولو سره بی له یوی خوا د مولوی خالص او مولوی محمدی په خوښه دراولپنډی دشوری طرحه رارواندی کړه او له بل پلوه بی خپل اصلی حلیف سیاف پدی مامور کړ چی دملگرو ملتو دطرحی سره مخالفت ونبیی .

اویاداچی سیاف ربانی دیته مجبور کړ چی زه به مخالفت کوم او ته ورسره نرمه غاړه وړه . که هره خوادرته شوه دا بل به خپل وزن هم په هغی کی وړ اچوی. په هر صورت ربانی که په هر منظور دا خبره کړی خو پری یقین نلری ځکه بی دروستی پریکړه دمسعود مشوری ته پریښی ده . همدغه ډله کتونکی وایی چی اوس مسعود هم په دی راضی شوی چی ربانی له منځی لیری شی او یوه بله نوی سمبولیکه جبره راوراندی کړی ، ترڅو په دی شکل په سیاسی میدان کی مخالفینو (دهمآنگی شوری) ته غوڅبوسکی ورواړوی. نو غالب احتمال دادی چی مسعود به هغه ته داستعفا مشوره ورکړی وی.

دځینو موثقو منابعو په حواله دا هم ویل کیږی چی سیاف هم په ځینی خصوصی محافلو کی داخبره ځرگنده کړی چی ربانی استعفا کوی ،حتی دهمآهنگی شوری ته بی هم دهغه له اړخه شین چراغ بل کړیدی .

ددغی ډلی کتونکو له نظره داخبره اوس یقینی ښکاری چی ربانی به استعفا کوی خودا لامعلومه ده چی دا کار به دملگروملتو دطرحی په اساس وی او که به دهغه دخپلی لانجمی دروستی اته ماده یی طرحی له مخی .که د دروستی طرحی په اساس ربانی له کاره گوښه کیږی ،سولی ته بیانه یوازی امید واری پکار نه ده ، بلکی دلاخرابیدو اوپراخ جنگ احتمال لیدل کیږی .

دریمه ډله بیا یوه نوی خبره کوی او په دی اړوند یو اویل ځای داسی انگازی هم خوری شوی چی دائتلافی اداری دورووستیو ماتو له امله دهغوی په لیکو کی اختلافات راولاړشوی او ددی اختلاف خلیج په زیاتیدو دی ،هره ډله دماتی اوشکست مسئولیت په بله وراچوی.

دغه کتونکی له کابل څخه دوروستیو رارسیدلو خبرونو اوعینی شاهدانو په حواله وایی چی هلته په ائتلافی اداره کی اوس په ښکاره ډول دوه فرکسیونونه دبل یو د ملامتی اوله صحنی څخه د وتلو کارکوی یو دمسعود ،بابه جان اوبل هم دسیاف ربانی په گټه دی دادواړه له یو خوازیاریاسی چی دماتی ټوله ملامتی په بله خوا واړوی اوله بلی پلوه هره پخپلوار دهماهنگی شوری سره داپیکو پیداکولو په لټه کی دی .

ان تردی چی یو بل په دی ویروی چی دهماهنگی شوری سره به بی په ضد لاس یو کړی .

خبره ترنښتو اویو دبل دقوماندانانو تر ترور ولو پوری هم رسیدلی ده .

دشورای نظار دافرادو له خوا په کندز کی د اتحاد د قوماندان امیرمحمد تروروکول اویه کابل بناركی دشورای نظار،بابه جان اواتحاد دجنگیالیو ترمنځ وسله واله درنه جگړه دا ټول هغه څه دی چی دائتلافیونو ترمنځ د اختلاف دچلینج د زیاتیدو ښه مثالونه کیدای شی .

دائتلافیونو ترمنځ داختلاف خبره په کابل کی دومره مشهوره شوی چی په تیره اوونی کی ننگرهارته دسیاف او ربانی دراتلو سره سم هلته داسی آوازی خوری شوی چی دا دواړه دمسعود

(۳)مخ

(۳)مخ

سازمان ملل

پیگیری تلاشهای دپلوماتیك بخاطرحل معضله تاجکستان

فایق

عبدالله نوري رهبرنهضت اسلامي تاجکستان

به سلسله کوششهاي سياسي وديپلوماتيك بخاطرحل صلح آميز قضيه تاجکستان ، دور سوم مذاکرات بين نمايندگان رژيم مسلط بردوشنبه ومخالفين آن (نهضت اسلامي) روز ۵ شنبه ۲۸ ميزان ۱۳۷۳ هـ ش درشهراسلام آبادازسرگرفته شد . هيئت نهضت اسلامي تحت رياست اکبر توره جان زاده ، يکي ازمعاونين آقاي عبدالله « نوري » ازموقف مخالفين رژيم ترجماني نموده وازجانب رژيم حاکم بردوشنبه عبدالمجيد «دوستيوف» شخص رده اول ومعتمد رحمانوف پيشنهادات رژيم متبوع خودرا به آگاهي شاملين جلسه خواهد رسانيد .

ماه گذشته به اثر پادرمياني جمهوري اسلامي ايران نمايندگان رژيم دوشنبه وهيئت نهضت اسلامي تاجکستان به قيادت اکبر توره جان زاده درتهران مذاکرات وگفت وشنود هاي شان را آغاز نموده وتوافق کرده بودند که براي مدت يکماه آتش بس را رعايت خواهند کرد. به اساس مفاد توافقنامه تهران سرازروزپنجشنبه ۲۸ ميزان سالجاري الي ۲۸ عقرب بايد جانبين مقررات آتش بس را درمناطق تحت کنترول خويش رعايت نموده هيچنوع عکس العمل منفي که مفاد فيصله نامه تهران را نقض نمايد ازخودتبارز ندهند .

همچنان اعلام شده است که يك دسته از ناظران سازمان ملل به سرکردگي يك افسرنظامي اردني که روزچهارشنبه ۲۷ ميزان وارد تاجکستان گرديد ازجريان آتش بس نگراني خواهد نمود. درترکيب هيئت نظارت برآتش بس يکتعداد ماموران بنگلديشي، اردني وبعضي کشورهاي ديگر شامل بوده وايشان سعي خواهند کرد درمدت مأموريت شان تخلفات وکارشکني هاي دوطرف درگيررا دقيقاً تحت مراقبت گرفته راپورکارخويش را به سرمنشي سازمان ملل گسيل نمايند .

اجنداي مورد گفتگو در گردهمايي اسلام آباد رهايي وتبادله اسراي طرف هاي درگير اعلام گرديده ولي بااستفاده ازفرصت هيئت جانب رژيم مسلط بردوشنبه سعي خواهدنمود تا نمايندگان نهضت اسلامي را تشويق نمايد درريفرندم ونظرخواهي يي که قراراست به ابتکار طرفداران رژيم درششم ماه نومبر سال جاري عيسوي تدوير مي يابد حصه بگيرند .

درين جريان عبدالله «نوري » رهبر نهضت اسلامي طي مصاحبه خودبابخش سرويس دري راديو بي بي سي اظهارنموده است که چون درتاجکستان ثبات سياسي وامنيت وجود نداشته ورحمانوف موردتأييد مردم نمي باشد بنا: نهضت اسلامي از اشتراك در ريفرندم ابتکاري !! رژيم خودداري خواهد نمود .عدم اشتراك نهضت اسلامي درانتخابات ماه نومبر بيانگرآنست که رهبران مخالف رژيم به نتائج وپيامد هاي گفتگوهاي شان بانمايندگان حامي رحمانوف چندان خوشبين نبوده وسروصداي انعقاد انتخابات ازسوي طرفداران رژيم راتزويروفريبي ميدانندکه بمنظور خاموش ساختن فعاليت هاي نظامي وسياسي نهضت اسلامي براه انداخته شده است. اساساً رحمانوف وحاميان اوکه دقيقاً زيرنظرمشاوران روسي حرکت مينمايند قصددارند باراه انداختن هياهوي انتخابات وکشيدن پاي نهضت اسلامي درين جريان زمينه شکست سياسي آنراتدارك ديده به جهانيان ثابت سازندکه مردم تاجکستان خواهان بقدرت رسيدن مسلمانان نمي باشند. راستي هم درصورتيکه رحمانوف زمام امورا دردست داشته باشد وانتخابات تحت نظراو وکارگرداني مشاورين کي جي بي تحقق پذيرد بدون شك کانديد هاي نهضت اسلامي شکست خورده

امام علي رحمانوف رئيس جمهورتاجکستان

رژيم غيرقانوني مسلط بردوشنبه ازلحاظ سياسي فاتح وپيروزبدرخواهد آمد .

انتخابات واقعي درتاجکستان زماني شکل عملي رابخود ميگيردکه عساکرروسي خاك اين کشور را ترك گفته رحمانوف ازقدرت کنار برود وتحت نظر سازمان ملل وکنفرانس کشورهاي اسلامي به مردم اجازه داده شودکه بدون نگراني آراي شان را استعمال نمايند . درشرايطيکه رحمانوف به حمايه عساکرروسي سلطه ميراند وازخودکدام نيرويي ندارد چگونه مي توان اعتماد

ص(۳)

دمرکزی حکومت د نشتوالی اودمحلی قوماندانانو له خپلسری نه راولاړیدونکی ستونزی

میاسید رقیب

دنړی په هرگوټ اوهر هیواد کی یو شمیرملی اوبین المللی قوانین نافذ اوعملی کیږی ، هیڅ داسی یو هیواد اوحکومت به ونه میندل شی چی دخپل ورځنی ژوند سیاست اوکړنلاری په برخه کی له دغه راز مقرراتو څخه سرغړونه وکړی او که سرغړونه هم کیږی نو هرومرو بیا داسی خواکمنی اداری شته چی سرغړونکی ترگرویرنی ،تحقیق اوپوښتنی لاندی نیسی اونتیجه یی هم له چاڅخه پټه نه پاتی کیږی.

په نړی کی حینی استثنات هم پیښیږی چی حینی هیوادونه به کتبی (لیکلی) اساسی قانون ونلری لکه بریتانیا او داسی هیواد چی له جوړیدو څخه تراوسه پوری یوثابت قانون لری لکه دامریکا متحد ایالتونه هغوی هغه قانون چی دجورج واشنگټن په وخت کی جوړ اوتصویب کړیدی تراوسه په هماغه اولنی حالت پاتی د ی. جمهوری کسان ، کنگری او حکومتونه په کی راغلل لاړل خو له اساسی قانون سره بی چا غرض ونکړ اونه یی په بانکنوټونو کی کوم لاندی باندی راغی.

خو دا استثنا هیڅکله هم چا نه وه لیدلی چی پوره شپاړس کاله دی یو تاریخی اولرغونی هیواد نه مرکزی قوی دولت ولری ، نه دی اجرائیه اومقننه قوه اونه هم کوم اساسی قانون . که څه هم په اسلامی هیوادونو کی د اسلامی ټولنو له پاره دالله (ج) تر کتاب یعنی قرآن عظیم الشان اواسلامی فقه څخه لوړ قانون نشته خو له بده مرغه چی په افغانستان کی په همدی موده کی قرآنی احکام اومحمدی غری شریعت ترپښولاندی شوی ؤ، اساسی قوانین خوبی دماشومو رژیمونو دلاس آلی وی هرچا له خپلی خیتی به د ځان په گټه څه اوتی بوتی ویستی وی.

زه فکر کوم که له نړیوالو څخه یوه ذهنی پوښتنه په عامه توگه وشی چی : آیاداسی یو هیواد به وی چی په شلمه پیړی ،دساینس ،تخنیك ،سپوږمی اوکمپیوټر په زمانه کی دی دشپاړلس کالو له پاره دیوه مرکزی اومحلی حکومتونو څخه محروم وی خو بیا دی هم دهغه هیواد نوم اونښان اوټولنه له همدومره گډوډیو سره ژوندی پاتی وی؟ کیدای شی چی نړیوال ددی خبری تردید وکړی چی نه داهیڅ امکان نلری اوڅنگه کیدای شی چی په دی زمانه کی دی داسی دروښه پاتی ټولنه موجوده وی ؟

خو موږددی پوښتنی ځواب لرو اوورته ویلی شو چی هو داسی هیواد شته چی نوم یی افغانستان دی او ټولنه یی مسلمانه ده خونظام یی تراوسه اسلامی شوی نه دی . ،دیری قربانی یی ورکړی خو له بده مرغه چی دقربانیو ثمره یی بیرته دملحدینو په اشتراك یوی ائتلافی اداری ته وریه برخه شویده که څه هم وگړی یی مسلمانان دی خو له پخوا هم په کی قبایلی ځانگړی دودونه موجود ووچی څه یی له اسلامی مقرراتو سره سم وو او څه یی ناسم .

له دی سره به یی " شولی ته بخو –پردی ته بکو "کارکیده .ان تردی چی کله په کی ملوك الطوایفی رژیمونه اوسیمه ایزی اداری هم رامنځ ته شویدی.

اوس خو په افغانستان کی هیڅ نشته نه دولت او نه هم قانون هغه څه چی په کی روان دی هغی ته ملوك القوماندانی ویلی شو. هر قوماندان ، هر وسله وال سړی ترخپل توان پوری ځانگړی قلمرواوځانگړی چال چلند لری. هغه څه یی چی خوښ وی هغه کوی اود روا او نا روا فتوی هم ورسره وی. نه یی څوك د زور طاقت لری اونه یی څوك دزراونه یی هم دچل ول .

له بدویدتره دا خبره ده چی زمونږ دغه سیمه ایز واکمنان (ملوك القوماندانان) اوس دومره زرور شویدی چی له « باهر چه بازی با ریش بابا هم بازی » کوی. په دی معنی چی دوی پخپلو غیر معقولو اوناسنجول شویو اعمالو سره اوس دهیواد دحکی بشپړ تیا هم له خطر سره مخامخ کوی. دی کی شك نشته چی زمونږ اتلو او پیاوړو مجاهدینو اوقوماندانانو پخپل اسلامی جهاد سره دخپلو جهادی مشرانو او تنظیمونو په مرسته دکمونیستانو له لاسه بایللی افغانستان بیرته گټلی خودا وبایه دافغانستان په سر بیرته په ځانگړیو سوداگریو نه پلوری دا ځکه چی دافغانستان دپلرولو حق له هیڅ چاسره نشته اونه یی هم څوك درانیولو (خرید) حق لری افغانستان پرموږ دگټلواوساتلو حق لری نه دپلورلو.

له بله پلوه یوشمیر گاوندی اوښورهیوادونه چی د جهاد په موده کی یی له موږ سره پراخی مرستی کړی دا چی هغه دڅه په خاطر وی او دی بیله خبره ده ، هغوی اوخدای یی : خوموږ ته په هغه وخت کی ډیری په حای لگیدلی که اوس هغوی د دی هیله لری چی افغان ننگیالی اومسلمان مجاهدین دی پخپل هیودا کی ددوی گوداگی رژیمونه جوړکړی دا هغه ناشونی خبره ده چی پوره شپاړلس کاله زمونږ مجاهدین داسلامی مستقل اوخپلواك نظام دجوړولو له پاره جنگیدلی دی که له هرچاسره دافکروی ژر دی یی له سره لیری کړی اوزموږ داسلامی نظام دراوستو له پاره دی نه خنډ کیږی.

زمونږ دغه نړیوال دوستان اوس یوشمیرنړیوالی دیپلوماتیك غلطی کوی چی له دوی څخه به ملی اوبین المللی راولاړی شوی ستونزی هومره ستری وی چی بیا به یی د آواری له پاره خبره هم نشی کیدای . که زمونږ دغه دوستان اوس افغانستان له ژوبلی گوتی نبسی " اودخپلو گټو له پاره ترینه ناوړه گټه اخلی له دی راز کار څخه به راولاړی شوی بلاگانی هومره ویرونکی وی چی اړوند وټولنو ته به ستر ستر زیانونه ورسری اودا زیان به

(۳)مخ

اشتراك (٦٠) نماینده از هر تنظیم ...

داکترطالب میگوید :درین دور مذاکرات بامحمود مستیري رئیس هیئت خاص سازمان ملل متحد براي افغانستان اختلاف نظرهایي موجود بود.

بقول وي یکي ازین اختلافات این ... که قراربوددردور دوم ماموریت مستیري ازنماینده گان احزاب وشخصیت هاي بیطرف کمیسیوني بوجود بیاید ولي درجلسات گویته این امر مراعات نشد. باوجود آنهم جلسات کویته نکات مثبتي داشت . مثل موضوع ضرورت انتقال قدرت که روي آن بحث صورت گرفت ورروي این نکته تاکید شدکه باید بجاي حکومت موجود، قدرت به یك حکومت موقت انتقال یابد .

داکترمحمدرسول طالب درمورد موافقت اخیر رباني ،مولوي محمدیونس خالص ، مولوي محمدنبي محمدي وسیاف که باید براي حل بحران افغانستان از هرولایت ۳۰ نفر وازهرحزب ٦٠ تن حصه بگیرند، گفت:

این طرحها را که آقاي رباني مطرح میکند صرف به این دلیل است که میخواهد تلاش هاي آقاي مستیري را به شکست مواجه سازد ،بخاطریکه سران اداره ائتلافي فعلاً حاضر به انتقال قدرت نیستند وقتي قدرت منتقل نشود، هرطرحي ولوکه معقول هم باشد درافغانستان قابل پیاده شدن نیست .

داکترطالب افزود : مابه این عقیده هستیم که براي حل مسئله افغانستان تمام گروها باید سهم بگیرند وتشریك مساعي نمایند . اینکه هرحزب ٦٠ تن رابه کمیسیون بفرستد یك راه ناکام است . مااین تجربه را درشوراي راولپندي نموده ایم. طرح ازهرولایت ۳۰ نماینده نیز یك جریان طولاني را دربي دارد . آنها چگونه ازتمام مردم نمایندگي خواهند نمود،درکجا وبه چه ترتیب ؟! این کاربسیار مشکل است .

د رباني ائتلافي اداره د ...

جنرال فوحي ددې پوښتني په ځواب کي چي ستاسي ددغه حملي په دملگروملتودخاص استازي محمود مستیري دسولي پروگرام له خطرسره مواجه نه کړي وویل : دافغانستان دچارویه هکله دملگروملتودعمومي منشي له خوادځانگړي استازي جلالتمآب محمودمستیري په غوښتنه اوهم دکویټي په ښارکي دیوي مشورتي غونډي دجوړیدو له امله دهیواد دشمالي سیمودعالي شورا هوایي ځواك چي دهماهنگي شورا پوري اړه لري په ټول هیوادکي دخپلو بم غورځونکو الوتکودالوتلومخه نیولي وه .همدارنگه دکندز دمعززینواوسپین ږیرودراتگ له امله موږ دهغوي سره په لس ورځني اوربند موافقه وکړه .خودمیزان دمیاشتي په اوه ویشتمه اواته ویشتمه نیټه درباني اومسعود الوتکو ونکړاي شوای چي دشبرغان دښار فوحي هدفونه بمباري کړي نوبي دمزارشریف دکوداوبرق اوهوایي دگرېه شاوخواکي دملکي خلکوداوسیدوسیمي بمباري کړي .خو همدغوبمبارېو ځاني تلفات متحته راته وړل ، دافغانستان ملي اسلامي جنبش دهمدي بمباریو په هکله په مزارشریف کي دملگروملتودفترته خبرورکړ ، اودهیواد دشمالي سیموعالي فوحې شوراپه خپله اضطراري غونډه کي پریکړه وکړه چي درباني داداري له خوابمباري ته باید ځواب ورکړي شي. نوله همدي امله دمیزان دمیاشتي په اته ویشتمه او نهه ویشتمه نیټه باندي پنځلس ځله بم غورځونکو الوتکو دهم آهنگي دعالي شورا په امرسره دبگرام په هوایي ډگراود رباني داداري پرنورو فوحي ځایونو الوتني وکړي ،چي په کافي اندازه سره بي مقابل لوري ته تلفات واړول.

جنرال فوحي دکابل دوضعي په باب دخبریال پوښتني ته وویل : نن په نسبي ډول سره دکابل په ښارکي آرامي ده ،خوخال خال حملي دوام لري. خو په کامل ډول سره ښارآرام نه ښکاریږي

مسؤلین دو حوزه...

الرحمن بحیث ناظم حلقه، خیرالله «خیرخواه» مسئول فرهنگي ، رحمت الله «فایز» مسئول ارتباط، شفیع الله مسئول اطلاعات ، نورآغا « شیدا » مسول تدویراجتماعات ، نورحکیم شاه مسئول مالي ونورآغا مسئول دعوت وتنظیم انتخاب شدند .

همچنان سه شنبه ۲۱ میزان جلسه بزرگي درریاست امورسیـ... واقع تاون برگزارگردید .جلسه باتلاوت آیاتي ازکلام الله مجید با قرائت قاري صاحب مظهرالدین آغازگردید . سپس برادر محمدهاشم « خاوري » مسئول اداري مدیریت تنظیم اسلامي محصلان ومتعلمان ، همایون«حامد » مسئول ارتباط مدیریت تنظیم اسلامي محصلان ومتعلمان سخنراني نمودند. بعداً درنتیجه انتخابات برادران هریك :

عبدالجبار «حلیمي » بحیث ناظم حوزه ، قاري مظهرالدین معاون حوزه ، قاري عنایت الله مسئول مالي، قاري محمدنور مسئول دعوت وتنظیم ، محمدابراهیم مسئول اطلاعات، محبوب الرحمن «رحیمي » مسئول ارتباط،محمد حبیب بحیث مسئول کنفرانس و دین محمد مسئول فرهنگي بحیث مسئولین حوزه شهید عبدالله اعزام انتخاب شدند .

دجماعت علمای...

